# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۳۸) ګڼه / دوشنبه ۲۷ شعبان‌المعظم ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۲۹ حوت ۱٤۰۱ هـ.ش / ۲۰ مارچ ۲۰۲۳ میلادي


د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرګو او قومونو مرستیال:

## د اسلامي امارت مسوولین د افغانستان د خلکو او ملت خادمان دي

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرګو او قومونو مرستیال ملا عبدالخالق عابد د قومونو د یووالي او همپالنې تر نامه لاندې جوړه شوې غونډه کې وویل، چې د اسلامي امارت مسوولین د افغانستان د خلکو او ملت خادمان دي او مجاهدین د دې ملت ساتونکي دي.

د باختر آژانس د خبرله مخې؛ د قومونو د یووالي او پیوستون تر نامه لاندې یوه ستره غونډه نن د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت له خوا په کابل کې د ولسوالیو د دیني عالمانو، مخورو، پوهانو او ځوانانو په ګډون جوړه شوه.

په دې غونډه کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرګو او قومونو مرستیال ملا عبدالخالق عابد وویل، هغه ازادي، خپلواکي او یووالی چې افغان ملت له ډېرو کلونو وروسته ترلاسه کړی دی، ټول یې د شهیدانو د وینو برکت دی.

عابد وویل، چې د افغانانو د یووالي ثمره په هېواد کې د ملي امنیت د تامین لامل شوی او باید زموږ یووالی وساتل شي، د اسلامي امارت له نظام څخه ملاتړ د ټولو افغانانو مسوولیت دی او همدا یووالی د اشغال پر وړاندې د بریا لامل شو. ۵ مخ

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال:

## د ملت او دولت تر منځ هیڅ واټن نشته



د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر په سپیدار ماڼۍ کې د افغانستان د اهل تشیع اقلیت د کمیسیون له یو شمیر مشرانو سره په لیدنه کې د افغانانو تر منځ په اتحاد ټینګار کړی او ټول هیوادوال یې ګډ کار او خدمت ته رابللي.

ښاغلي مولوي عبدالکبیر ویلي: اوس د دې وخت دی چې ټول ورونه قومونه په شریکه د افغانستان د ابادۍ او ښېرازۍ لپاره لاسونه ورکړي.

نوموړي ټینګار وکړ، چې اسلامي امارت د ټولو افغانانو ګډ کور دی، د هیچا ترمنځ تبعیض او توپیر نشته او له نېکه مرغه چې د ملت او دولت ترمنځ واټن له منځه تللی دی. په یاده کتنه کې ... ۵مخ

## د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري له یو شمېر دولتي بنسټونو سره د ساده شویو پروسو تطبیقي تړونونه لاسلیک کړل

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري د لوړو زده کړو وزارت او تخنیکي او مسلکي تعلیماتو له اداري سره د ساده شویو پروسو د تطبیق په موخه تړونونه لاسلیک کړل.

یاد هوکړه لیکونه نن د حکومت د رسنیو په مرکز کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري د رئیس او لوړو زده کړو وزارت د سرپرست او همدارنګه د تخنیکي او مسلکي تعلیماتو اداري د رئیس تر منځ لاسلیک شول.

د لوړو زده کړو وزارت ... ۵ مخ



## افغانستان ته د بهرنیو باروړونکو موټرو د داخلېدو طرح تصویب شوه

ابیني د افغانستان خاورې ته د بهرنیو بارووړنکو موټرو د داخلېدو او تګ راتګ طرحه تصویب کړې ده. د چارو اداري پر خپله تویټرپاڼه لیکلي، د سرپرست حکومت کابینې د افغانستان قلمرو ته د بهرنیو بارووړونکو موټرو دننه کېدو او تګ راتګ طرحه تصویب کړې ده. سرچینې زیاته کړې، د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت ته دنده سپارل شوې چې دغه طرحه له اړوندو ادارو سره په همغږۍ پلې کړي. دا په داسې حال کې ده چې افغان او پاکستاني چارواکو د جلال آباد - پېښور ترمنځ د مسافروړونکو بسونو پر تګ راتګ هوکړه کړې ده.



## د معاشونو او تشکیلاتو د تنظیم کمېسیون غونډه ترسره شوه

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ د معاشونو او تشکیلاتو د تنظیم کمېسیون غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې چې د معاشونو او تشکیلاتو د تنظیم کمېسیون پر غړو سربېره د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ او پوهنې وزارتونو باصلاحیته استازو حضور درلود، د ۱۴۰۲ کال د مالي پلان، بودجې او تشکیلاتو ترڅنګ د یادو ادارو د تېر کال کړنې او لاسته راوړنې وڅېړل شوې او په اړه یې هر اړخیز بحث وشو.

همداراز ټینګار وشو چې اداري دې له تشکیلاتي پړسوب او وظیفوي تداخل څخه ډډه وکړي او مسلکي برخو ته دې ځانګړې پاملرنه وکړي.

په پای کې د معاشونو او تشکیلاتو د تنظیم کمېسیون د دغو ادارو د ۱۴۰۲ کال د تشکیل، بودجې او مالي پلان په اړه لازم تصمیمونه ونیول.



## د بولدک – چمن تر منځ د اوسپنې پټلۍ کارونه پیلیږي


د افغانستان د سرپرست حکومت چارواکي وايي، چې په راتلونکي کال کې به د بولدک – چمن ترمنځ د اوسپنې پټلۍ کارونه پیل کړي. د اوسپنې پټلۍ اداري مشر دا خبره د کندهار د اوسپنې پټلۍ د آمریت څخه د لیدنې پر مهال کړې ده. نوموړي ویلي، چې د دغو چارو د پیل په اړه یې لومړني کارونه مخته وړي او تمه لري، چې عملي چارې به یې راتلونکي کال کې پیل شي. د کندهار د اوسپنې پټلۍ آمریت د چمن - بولدک اوسپنې پټلۍ پروژې د ودانیزو چارو د پیل اړوند خبر یې د خلکو لپاره ښه زیری بللی دی.


د اسلامي امارت سیاسي او دیپلوماتیکه دستګاه! ۲ مخ

د شعر لیکلو لپاره شپږ مهم ټکي ٤مخ

رښتینې شتمني د مثبت فکر، مینې، شوق او لېوالتیا زېږنده ده ۲ مخ


## مالیې وزارت، په ګمرکونو کې پر لومړنیو خوراکي توکو د ګمرکي محصول د کمښت خبر ورکړ



مالیې وزارت وايي چې د افغانستان اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته، د هېواد په ګمرکونو کې پر لومړنیو خوراکي توکو ګمرکي محصول، د پام وړ کم شوی دی.

دغه وزارت نن باختر آژانس ته د یوې خبرپاڼې په استولو سره ویلي دي: د افغانستان اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته، په هېواد کې د لومړنیو خوراکي توکو (اوړه، غنم، غوړي، وریجې، بوره...) د نرخونو لوړېدو د مخنیوي او د خلکو اقتصادي وضعیت په پام کې نیولو سره، د مشرتابه عالي مقام په لارښوونه، د هېواد په ګمرکونو کې پر لومړنیو خوراکي توکو ګمرکي محصول له (۵۰) سلنې څخه تر (۷۰) سلنې پورې تخفیف ورکړل شو، چې دغه چاره د اسلامي امارت له ولس سره ... ۵ مخ

## د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست په پاکستان کې له مېشتو افغان سوداګرو سره وکتل

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور، په پاکستان کې مېشت له یو شمېر افغان سوداګرو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل. باختر آژانس ته د کانونو او پټرولیم وزارت د مطبوعاتي دفتر د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنه کې دواړو لوریو، په افغانستان کې د پانګونې لپاره د مناسبو شرایطو په اړه د خبرو ترڅنګ، په افغانستان کې د کانونو د پروژو او د افغانستان د کاني زېرمو په برخه کې د پانګونې د جلب او جذب په اړه خبرې وکړې.

## سرمقاله

## لمر په دوو ګوتونه پټېږي!

په افغانستان کې د اسلامي امارت لاسته راوړنې د لمر په څیر روښانه دي او په دې واقعیت شوک سترګې نشي پټولی هغه ستونزې چې ټوله نړۍ یې په مهارولو کې ناتوانه وه او په شلو کلنو کې یې ونشو کړای د ملت غوښتنوته مثبت جواب ووايي د اسلامي امارت په واکمنیدو لمنځه تللي د بیلګې په توګه د ټول هیواد په جغرافیایې حریم واکمني، دایمن امنیت ټینګول، جنګ پای ته رسول، د اسلامي نظام قیام، سراسري سوله، د عدالت تامینول، د هیواد په بنسټیزو پروژو د کار پیلول او ترټولو مهمه لا دا چې د خپل هیواد له عایداتو څخه د حکومتي چارو سنبالول چې په اوسنیو حالاتو کې ځیني اتومي او پر مختللي هیوادونه له نړیوالو مرستو پرته خپل نظامونه نشي چلولی په داسې حال کې چې په افغان حکومت نړیوال بندیزونه اود تحریمونو حلقې ورځ تربلې پیچلي کیږي د ملت شمتنې مو کنګل شوې د رسمیت پیژندنې لړۍ په ټپه ولاړه ده خو د افغانانو مظبوطه اراده او متین عزم به یوځل بیا نړۍ دې ته اړکړي، چې پخپلو دریځونو له سره غور وکړي، لکه چې پښتو متل دی لمر په دوو ګوتو ... ۲مخ

## په هلمند کې د ۱۹ کیلومتره سړک د بیا رغولو چارې پیل شوې

د هلمند د ټولګټو ریاست مسوولین وايي چې مرکز لښکرګاه ښار او چاه انجیر ترمنځ غځېدلي د ۱۹ کیلومتره سړک د بیا رغولو چارې پیل شوې.

د هلمند د ټولګټو ریاست مسوولینو د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل چې د دغه سړک د بیارغولو چارې د یاد ولایت د ټولګټو ریاست له لوري د څه باندې ۴۰۰ زره افغانیو په لګښت پیل شوي، چې چارې به یې د یوې اوونۍ په موده کې بشپړې شي.

## د افغانستان بانک، پانزده میلیون دالر امریکایی را لیلام می‌کند

د افغانستان بانک، برای تقویت بیشتر ارزش پول افغانی، در نظر دارد که پانزده میلیون دالر دیگر را امروز دوشنبه ۲۹ حوت سال‌روان، لیلام کند.بانک مرکزی با ارسال خبرنامه‌یی به آژانس باختر، از بانک‌ها و شرکت‌های صرافی و خدمات پولی واجد شرایط خواسته‌است ... ۵مخ






سالمزی

زما نظر دادی چې موږ هر کار او هره دنده مخ ته وړو باید په پوره اخلاص سره یې مخ ته یوسو دا ځکه چې په هر کار کې اخلاص د قبولیت لومړی شرط ګڼل شوی که هغه عبادت هم وي خو چې اخلاص پکې نه وی الله ج ته د قبول وړ نه دی نو پکار ده چې موږ په هر کار کې له اخلاص څخه کار واخلو ترڅو هر هغه څوک چې موږ ته دنده او یا بل کوم کار را سپاري باور او اعتماد وکړي څوک چې پخپل ځان باور نلري د نورو باور هم نشي خپلولی راځی خپل ځان باوري کړو چې نور هم په موږ باوري شي زیات شمیر بهرني او داخلي دښمنان پدې هڅه کې دي چې د ملت او حکومت ترمنځ یو په بل دبې باوری فضأ رامنځ ته کړي او پدې شکل د ملت او حکومت ترمنځ فاصله ایجاد کړي خو افغانان نور پوهه شوي او د کورنیو او بهرنیو دښمنانو په پوچو تبلیغاتو نه غولیږي او په دوی بیاځلي باور حماقت بولي دوی ملت ته امتحان ورکړي لکه چې وایې که یوځلې دې تیرویستم تادې خدای غرک کړي او که دوهم ځل دې تیرایستم مادې خدای غرک کړي افغان مومن او مجاهد ملت د تاریخ په اوږدوکې ډیرې قربانۍ ورکړي ډیرځوریدلي دي د دوی په سرونو د شفقت لاسونه راکاږی لکه چې پښتو متل دی تورې دې لالاوهي او مړی دې عبدالله وهي قرباني چا ورکړې او مزې چرچې چا وکړې ملت به بیا په هغه چاځرنګ باور او اعتماد وکړي چې دا ملت یې فقرته کیښنوه ملت به په هغه چا بیا څرنګ باور وکړي چې افغانان یې سوال ته ارکړل بهرنیو هیوادونو ته یې کډوال کړل د ذلت او بې عزتۍ سره یې مخ کړل افغانان به هیڅکله هغه خأینان ونه بښي چې افغانان یې ددغه رنګ بوږ نوونکو حالاتو سره مخ کړي نو لازمه ده چې د اسلامي امارت چارواکي د خپل ملت غوښتنې چې د اسلامي شریعت سره ټکرونلري ومني او خپل ملت ته خپله غیږ پرانیزي ترڅو د بهرنیو او کورنیو دښمنانو دغه وروستۍ هیله چې د حکومت او ملت ترمنځ د فاصلې ایجادول دي هم له خاورو سره خاورې شي ترڅو په خپل ګران او محبوب هیوواد کې خپلواک او سر لوړی ژوند وکړو.

ومن الله توفیق

# د اسلامي امارت سیاسي او ډیپلوماتیکه دستګاه!

حمزه الیاس




تېر شل کاله چې مبارزه روانه وه د اشغال په ضد باندې نو د افغانستان اسلامي امارت د سیاسي کمیسیون په نوم باندې سیاسي فعالیتونه درلودل او د نړۍ د مختلفو هیوادونو سره یې اړیکې ټېنګې کړې وې؛

چې بالآخره د قطر هیواد پلازمېنه دوحه کې د څه باندې یو نیم کال سیاسي مذاکراتو وروسته د افغانستان څلوېښت کلن اوږد جنګ ته پای ټکې کېښودل شو اسلامي امارت په سیاسي پالیسۍ سره نړۍ دې ته مجبوره کړه چې خپل نظامي حضور ته د پای ټکي کېږدي او خپل نظامي ماموریت نور پای ته ورسوي، او ددې تر څنګ یې داسې یو تړون لاسلیک چې پکې اسلامي او افغاني ارزښتونه خوندي وه او پر داسې مادو یې هوکړې وکړې چې د افغانستان او افغانانو مفاد پکې خوندي وه چې بالآخره په کامیابي سره پای ته ورسېدل.

وروسته تر هغه چې کله په ۱۵م د اګست افغانستان د اشغال څخه خلاص او یو خپلواک اسلامي نظام منځته راغلئ اسلامي امارت په لومړي قدم سره د خپلو شېږو ګاونډي هیوادونو سره راشه درشه زیاته کړه او په دې وتوانېدل چې د شپږو ګاونډي هیوادونو سره اړیکې نارمل/ عادي حالت ته راټیټې کړې چې په دې سره د هیواد ټول بندرونه لکه: اسلام قلعه، تورغونډۍ، حېرتان، شېرخان، آقینه، بولدک او تورخم د تجارت پر مخ پرانیستل سول او یو تجارتي دهلېز جوړ سو او تجارانو ته سهولتونه برابر سوه.

او په دوهم قدم کې د اسلامي امارت سیاسي استازولۍ لسګونه سفرونه مختلفو هیوادونو ته ترسره کړه د مثال په ډول: قطر، ترکیه، همسایه هیوادونه، د سیمي هیوادونه حتا تر اروپا او ناروې پورې یې سیاسي او رسمي سفرونه ترسره کړه،او د هیوادونو سره یې رسمي اړیکي ورغولې او هغه تبلیغات چې د اسلامي امارت په خلاف سوي وه اسلامي امارت خپله حقیقي څهره په خپله وښودل، او هم هلته یې د سیاسي اړیکو د ټینګښت سربېره په ځینو هیوادونو کې خپلو سفارتونو ته خپل رسمي دیپلوماتان ولېږل او سفارتونه هم فعال شول. د مثال په ډول: پاکستان، ایران، ازبکستان، ترکمنستان، قرغزستان، قطر، روسیه، چین، متحده عرب امارات، ترکیه او داسې نور.. او همداسې د نړۍ په ډېرو هیوادونو کې داسې سفارتونه سته چې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت سره عملا همکار دي او د بهرنیو چارو وزارت په اطاعت کې دي او خپله خدمات وړاندې کوي.

د اسلامي امارت سیاسي استازولۍ په تېر څه باندې یونیم کال کې په دې وتوانېدل چې د نړۍ د بېلابېلو هیوادونو څخه د پنځوس په شاوخوا کې لوړپوړي او منځپوړي چارواکي راغلل او د اسلامي امارت د مشرانو سره یې ولیدل او د مثبتو خاطرو سره بیرته ستانه سوه چې په دې چارواکو کې خارجه وزیران، خاص استازي، تجارتي وفدونه او د علماوؤ وفدونه هم پکې شامل وه او اوس هم دا تسلسل جریان لري چې دا یو ډېر ښه پرمختګ دی.

د اسلامي امارت سیاسي استازولۍ نه یواځې د دوست او ګاونډیو هیوادونو سره خبرې شروع کړې بلکې د اوروپایي هیوادونو، د ناټو غړو هیوادونو او د امریکا متحده ایالاتو سره متعدد مجالس وکړه خصوصا د قطر هیواد پلازمېنه دوحه کې څو کرته مجالس وکړه خو بالآخره تر ډېره حده پورې یې هغه کنګل مات کړ چې د اسلامي امارت او ددې هیوادونو ترمنځ هیڅ راشه درشه نه وه.

د اسلامي امارت سیاسي استازولۍ او امریکا متحده آیالاتو ترمنځ تر یو حده دا پرمختګ وشو چې د افغانستان بانک او بندیزونو په سلسله کې امریکا څو لېسنسونه جاري کړل چې د پیسو په لېږد رالېږد او د تجارانو ته د سهولت په برابرولو کې ډېر مثبت ثابت سول چې دا تسلسل د امریکا متحده آیالاتو سره اوس هم جریان لري.

د اسلامي امارت سیاسي ابتکار دی چې په کابل کې ګڼ شمېر سفارتونه فعال ساتل سوي دي او یو شمېر نوي پرانیستل سوي دي خپل فعالیت کوي او د خپلو هیوادنو استازولي کړي او دا تسلسل به ان شاء الله جریان پیدا کړي.

د افغانستان اسلامي امارت سیاسي استازولۍ نړۍ ته دا ثابته کړه چې د افغانستان سیاسي پالېسۍ او سیاست دا یو متوازن سیاست دی.

متوازن په دې معنا چې د نړۍ د ټولو هیوادونو سره مثبتې اړیکې غواړي، متوازن په دې معنا چې افغانستان به ددې نه وروسته د لویو آبرقدرتونو د مقابلې ډګر نه وي، متوازن په دې معنا چې اسلامي امارت د نړۍ په منازعاتو/جنجالونو کې د یوه هیواد طرف نه نیسي.

خو بالآخره د افغانستان اسلامي امارت نړۍ ته دا واضحه کړه؛ چې د اسلامي امارت سیاست اقتصاد محوره سیاست دی، اقتصاد محوره په دې معنا چې اسلامي امارت په دې قایل دی چې هم نورو ته ګټې ورکړي او هم له نورو ګټې پورته کړي، اقتصاد محوره په دې معنا چې افغانستان د آسیا زړه دی په سیمه کې یو بهترین موقعیت لري اسلامي امارت غواړي چې افغانستان د سیمي د وصل او اقتصاد په مرکز بدل کړي.

# دا نړیدلي پوستې هم یو څو خبرې کوي!

م . حبیب




زه په سیټ کې خاموش ناست وم د موټر په تېزیون کې مې ولاړشیان ترسترګومتحرک او تېزتېز تېرېدل د لارې له څنګ سره د نړېدلو پوستو په لیدلو مې له ځان څخه پوښتنه وکړه تېرشل کلونه په هیوادکې دوه صفونه ښه کلک سره وجنګېدل هغه یو صف په کلیوکې په خامو خونوکې اوسیدل او دغه بل صف چې ښارونه او سړکونه یې په لاس کې وو تر درنو درنو سیمټي دېوالونو شاته یې ژوندکاوو ددې شاته کوم علت وو ؟

چې بیاهم هغه کامیاب او دغه داسې ښکاره ناکامه شوو زمازړه ته داحقیقت راولوېدی هغه یوصف چې په دیارونو کې اوسېدل ددې خاورې بچیان وو خیانت یې نه ووکړی نو ځکه خاورې هم د خپلوبچو په څېر وساتل اودابل صف چې د هیواد ددښمنانو په سیوري کې یې منډې وهلې له ځمکې سره یې جفاکړې وه پرځان باندې یې غونډۍ غونډۍ خاورې راګرزولې وې خو بیا هم ونه ساتل اوس یې هغه دې کنډوالې کنډوالې پوستې د لارې په غاړه پاته دې او دوی غړنه اورېدل کیږي که څوک بیداروي او خبرې اورې دانړېدلې پوستې هم یوڅو خبرې کوي

# په هرات کې د دوو ټولګټو پروژو چارې پیل شوې

د هرات د کلیو، بیا رغونې او پراختیا ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په کهستان ولسوالۍ کې د افغانستان ټولنیز ملاتړ او معیشیت پروګرام له لوري د دوو ټولګټو پروژو چارې پیل شوې.

د دغه ولایت د کلیو، بیا رغونې او پراختیا رییس مولوي عبدالسلام هجرت باختر آژانس ته وویل، چې دغه پروژې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ پلي کېږي، چې په کې د ویالو او کانالونو پاکول او په سړکونو د جغل اچونې چارې شاملې دي.

هجرت زیاته کړه، چې د یادو پروژو چارې د ۴ میاشتو په موده کې بشپړې شي.

# لمر په دوه ګوتونه ...

نه پټیږي نړیوال به حتمي او ضروري د افغان حکومت او ملت غوښتنوته غاړه ږدي او د تعامل له لارې به له افغان حکومت سره خپل روابط او اړیکې جوړوي لکه چې په دې وروستیو کې د ایران او پاکستان چارواکو له افغانستان سره په تجارتي اړیکو او راشه درشه خبرې کړي او په دې برخه کې به ډېرژر یولړ پرمختګونه رامنځ ته شي زموږ خارجي سیاست او پالیسې د نورو په کورنیو چارو کې د نه لاس وهنې پربنیاد ولاړده او له نورو هیوادونو څخه مو هم ورته هیله ده چې زموږ په چارو کې له مداخلې ډډه وکړي.

ومن الله توفیق

# راځئ چې د خپلو يتيمانو او بېوزلو لاسنيوی وکړو!

فضل محمد فيضان

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي (زه او د يتيم پالونکی به په جنت کې په دې ډول يو، او بيا يې په مسواکي او منځنۍ ګوتو داسې اشاره وکړه چې په منځ کې يې څه بېلوالی و) بخاري شريف يې روايت کړی دی.

د يتيم پالنه د ګران پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره په جنت کې د يو ځای کېدلو او ملتيا لامل ګرځي او د يوه مسلمان لپاره همدغه وياړ بس دی، د يتيم پالنه، روزنه او نفقه د يتيم پالونکي د ښه مزاج او نرم زړه نښه ده.

د يتيم په سر د مينې لاس تېرول د زړه نرموالی راولي، سختي او بدي له منځه وړي.

د يتيم پالنه يتيم پالونکي ته په دې دنيا د الله جل جلاله له لورې د لوړوالي او نېکۍ بدلې زېری ورکوي، لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي – ژباړه : آيا د ښېګڼې بدله پرته له ښېګڼې بل څه کېدای شي؟ د الرحمن سورت (٦٠) ايت.

مسلمانه وروره! د يوې داسې ټولنې په جوړولو کې برخه واخله چې له کينې او کرکې څخه پاکه ده، او دې ته د مينې او دوستۍ فضا وروبخښه، لکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي – ژباړه: ته ګورې مومنان چې په خپل منځي مهربانۍ، دوستۍ او شفقت کې لکه د يوه بدن غوندې دي، نو کله چې د بدن يو غړی په درد اخته شي، ټول بدن او جسم په بې خوبۍ، تبې او نارامۍ اخته کېږي. ( يانې د يوه غړي درد د ټول بدن درد دی). رواه البخاري

د يتيم پالنه د هغو ښايسته خويونو څخه ده، چې د اسلام په مقدس دين کې دغه ښه او غوره خوی لرونکی ستايل شوی دی.



د يتيم پالنه د مسلمان مال صفا او پاکوي، او دغه کار د مسلمان مال غوره او ښه کوي هغه مال چې د مسلمان سره وي.

د يتيم په پالنه کې لوی برکت دی، چې د پالونکي په روزي کې ډېروالی راولي.

د يتيم پالنه له هغه کور څخه غوره او بهترين کور جوړوي؛ په کوم کور کې چې يتيم وي او له هغه سره احسان او ښه کېږي، لکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي- ژباړه: د مسلمانانو په کورونو کې غوره او بهترين کور هغه کور ده چې په کې يتيم وي او له هغه سره ښه کېږي. رواه ابن ماجه

د يتيم په پالنه کې دا ګټه ده چې ستا له مرګه وروسته به ستا له اولاد سره ښه وشي، او حفاظت به يې وشي، او نور خلک به ستاله اولاد سره ښه وکړي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي دي – ژباړه: د يتيمانو پر ضايع کېدو دې وصيت کوونکي ووېرېږي او دا دې په پام کې ولري که دوی د خپل مرګ نه وروسته داسې کمزوری اولاد پرېږدي چې دوی پر هغوی وېرېږي نو دوی به څومره ځورېدلي وو. دوی بايد له الله جل جلاله نه ووېرېږي او يتيمانو ته دې سمه، خوږه خبره وکړي. سورة النساء الآية (٨)

يتيم پالنه يو فرصت او غنيمت دی چې وخت او مال دواړه د الله جل جلاله په عبادت کې مصرفيږي.

يتيم پالونکي ته الله جل جلاله د يتيم پالنې بدله او عوض په دنيا او اخرت کې ورکوي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي- ژباړه: داسې ورځ نشته چې په هغې کې دوې ملايکې داسې غږ نه کوي بلکې هره ورځ دا دواړه ملکي داسې غږ کوي چې اوله وايي: ای الله نفقه او خرڅ کوونکي ته بدله او عوض ورکړې او هغه بله ملايکه وايي: ای الله بخيل او لاس نيونکی ته تبايي او هلاکت ورکړې، او يا څنګه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم وينا ده.

يتيم پالنه د نيکيو او ښېګڼو حاصلول او لاسته راوړل دي، او له ناکاره او بدو کارو څخه ځان ژغورل، او د بديو له منځه وړل دي.

د پورتنۍ ليکنې په رڼا کې ويلای شو چې لوی وياړ دی هغه چا لره چې د دغه ګټورو فايدو څخه په ګټنې د يتيم په پالنه کې هر راز مرسته، خواخوږي او احسان وکړي، او د يتيم په پالنه کې د وس مطابق هيڅ امکان ونه سپموي څو د دنيا او اخرت غوره برخې يې په برخه شي.

# ړښتينې شتمني د مثبت فکر، مينې، شوق او لېوالتيا زېږنده ده

ژباړه: حميدالله حميدي



کلونه وړاندې د يوه ځوان يوازېنۍ هيله دا وه چې خلکو ته د طبابت له لارې خدمت وکړي، خو بېوزلي يې د دې لامل شوې وه چې تر لسم ټولګي پورته زده کړې ونه شي کړای. هغه په يوه روغتون کې د عادي کارګر په توګه دنده واخيسته، د روغتون د خونو غولي، ښيښې او د ډاکترانو مېزونه به يې پاکول. عادت يې و چې د شپې به يې د خپل خوب کوټه کې تر ويده کېدو مخکې ذهن کې ځان ته د لوی ډاکتر تصوير جوړاو. فکر يې کاو چې ګواکې لوی ډاکتر دی او له نورو ډاکترانو سره څنګ په څنګ سپينه چپنه کې چې ستېټس کوپ يې پر دواړو اوږو را پروت وي، د روغتون په هره کوټه پر بسترونو ګرځي او د ناروغانو پوښتنه او درملنه کوي. هغه له روغتون نه هغه بنر چې د ډاکترانو نومونه پرې د رتبې له مخې ليکل شوي وو، د خپل خوب کوټې ته راوړی و او د خپل کټ مخامخ يې پر دېوال ځړولی و.

دا چې ده پر ځان باور درلود او تل يې مثبت فکر کاو، نو نوم يې د روغتون د ډاکترانو په ذهنونو کې پاتې شو او تر هغه چې خوب به نه و وړی، مخامخ بنر ته به يې کتل او په خپلو هيلو کې به غرق تللی و. نه پوهېږم څومره وخت به ده دا ډول خوبونه ليدل او دغه کار ته به يې ادامه ورکړې وي، خو له شک پرته چې دغه څه به يې د ډېر وخت لپاره تکرار کړي وي، د روغتون يوه ځوان ډاکتر له دې کبله چې دغه کارګر خپل کارونه په سم ډول ترسره کول، له خلکو سره يې ښه چلند درلود، په وزګار وخت کې يې ده ته دغه کار هم وسپاره چې د جراحۍ سامانونه ضد عفوني يعنې په جوش اوبو پرېمينځي.

څه موده وروسته يې د پېچکارۍ لګول او له ناروغانو سره يې لومړنۍ مرستې کول هم د ډاکتر په خوښه پيل کړل او همداسې په ترتيب سره له عادي کار کوونکي څخه د ډاکتر نرس او دستيار جوړ شو. له څه مودې وروسته ډاکتر ورته مشوره ورکړه او ويې هڅاوه چې ولاړ شي او خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. بالاخره د ده دغه مثبت فکر پايله ورکړه، دغه ځوان اوس د روغتون عادي کار کوونکی نه، بلکې لکه څنګه يې چې په ذهن کې تصويرونه جوړول، يو لوی او مشهور ډاکټر دی. ده له خپل مثبت فکر سره خپل ټول ليدلي خوبونه په حقيقت بدل کړل.

# د افغانۍ د ثبات دايمي حللارې

دوست محمد احمدزی



افغانستان يو مصرفي هېواد دی مصرفي اتکا يې تر ډېره پر وارداتو ده، زموږ داخلي توليدات او محصولات په هغه اندازه نه دي چې په کور دننه زموږ اړتياوو ته ځواب ووايي او يا مو ملي توليد په دې کچه وي چې په دوامداره توګه پرې افغانۍ خپل ارزښت ثابت وساتلی شي.

موږ کوم توليدي هېواد نه يوو چې د خپلو پيسو ارزښت د ملي توليد له لارې وساتو، زموږ کورني پيداوار د اړتياو په پرتله ډېر کم دي، اوهمدا علت دی چې په دوامداره توګه زموږ د ملي پيسې ارزښت ثابت نشي پاتې کېدلی، دلته د هر اقتصادي تغير تر شا يو سياسي علت او لامل پروت وي، که موږ اوسني وضعيت ته د يوې بېلګې په توګه نظر وکړو، کله چې د امريکا له لوري د اوسني حکومت پر وړاندې په هره اندازه نر منبت ښکاره کيږي، په هماغه اندازه يې په مالي بازرونو کې پر افغانۍ اغېزې هم منعکس کيږي.

د يو هېواد پيسې دوه ډوله ارزښت لري:

کورنی ارزښت:

د پيسو کورنی ارزښت چې حقيقي ارزښت هم ورته وايي، په دې مانا چې د يوه واحد کورنۍ پيسو په مقابل کې موږ څومره اجناس اوخدمات پېرلی يا اخيستلی شو.

بهرنی ارزښت:

د پيسو بهرنی ارزښت په دې مانا چې موږ د يوه کورني واحد پيسو په مقابل کې څومره بهرنۍ پيسې تر لاسه کولی شو، چې دا بيا دتاداياتو د بېلانس پورې اړه لري؛ په تادياتو بېلانس کې د نورو هېوادونو سره د يو هېواد ټولې اقتصادي راکړې ورکړې ثبت کيږي؛ د پيسو بهرنی ارزښت د سوداګرۍ بېلانس پورې هم اړه لري؛ په دې مانا کله چې د يو هېواد د سوداګرۍ بېلانس کسر وي د پيسو بهرنی ارزښت يې هم ټيټ وي او همدارنګه برعکس...

په افغانستان کې د اسعارو نرخ ټاکنه:

په افغانستان کې د مبادلې د متحول شوي مديريت سيستم نه کار اخيستل کيږي، ددې سيستم پر اساس اسعارو ته نرخونه د عرضې اوتقاضا له مخې ټاکل کيږي

د دې لپاره چې افغانۍ په دايمي توګه ثبات تر لاسه کړي، زموږ په اند لاندې چارې اړينې دي:

١: تر هر څه وړاندې د حکومت په کچه سياسي هڅې ډېرې اړينې دي، څو وکولی شو د يوه رسمي حکومت په توګه د افغانۍ د ثبات لپاره دوامدارې هڅې وکړو.



٢: د افغانستان بانک د ارزي ذخايرو د خلاصون لپاره بايد دوامداره هڅې وشي، ځکه له دې ذخايرو پرته د افغانۍ ثبات ناممکنه دی.

٣: د حکومت په کچه د اقتصاد د يوې عالي شورا رامنځته کول څو وکولی شي د يو شمېر مربوطه جهتونو لکه؛ د افغانستان مرکزي بانک، ماليې وزارت، اقتصاد وزارت، تجارت وزارت، صنعت وزارت، اوبو ملي اداري، برښنا شرکت، او ترانسپورت وزارت سره په ګډه د ملي اقتصاد په کچه يو ملي ستراتيژيک پلان طرح کړي او د تطبيق په موخه يې حکومت ته وړاندې کړي.

۴: د اسعارو د ليلام له لارې دې د اسعارو له بازار سره روايتي تعامل په منظم شکل ادامه پيدا کړي، او د اړتيا له مخې دې د ډالرو د ليلامقدار زيات شي، په دې مانا چې حسب معمول دې د يوه شفاف او غيرې قماري ميکانيزم له مخې هره اونۍ يو مقدار امريکايي ډالر دمرکزي بانک لخوا ليلام شي.

۵: د پيسو په بازارونو کې مداخلې او د اسعارو د قاچاق مخنيوی.

۵: د ارزښت لرونکو پاڼو د نشر زياتوالی.

۶: د ملي توليداتو حمايه او انکشاف.

۷: د مناسبو پولي سياستونو کارول.

۸: د مالي سيستم پراختيا.

۹: د بانکي نظام د پياوړتيا لپاره دوامداره هڅې.

۱۰: د ازاد بازار عمليات يا Open market operations زياتول.

۱۱: کاروباري راکړې ورکړې دې په دوامداره توګه په افغانۍ تر سره شي.

۱۲: د ملي اقتصاد دپياوړتيا لپاره دوامداره هڅې او مناسب پلانونه طرحه کول.

# د شعر لیکلو لپاره شپږ مهم ټکي

**ژباړه: استاذ ګل رحمان رحماني**

که غواړې شعر ددې لپاره ولیکئ چې د زړه بوج مو سپک شي او خپرېدو ته یې زړه نه ښه کوي، بیا نو دا ټکي درته په درد نه خوري، خو که له شعر لیکلو مو یوه موخه پر مخاطب اغېز او ورسره اړیکه وي، هوډ لرئ چې د هغه احساسات وپاروئ، بیا نو راځئ چې دا په ګډه ولولو.

لومړی: دا خو طبیعي ده چې د هر کار لپاره باید هدف مشخص وي، که چېرته مو منزل معلوم نه وي، بیا نو څنګه کولی شو چې خپل مسیر مشخص کړو، د شعر لیکنه هم له دې قاعدې مستثنی نه ده. شعر ددې لپاره لیکو چې ذهن مو ازاد شي؟ د اعتراض لپاره یې لیکئ که د کشف یا هم ښکلاوو د ستاینې لپاره؟ له دې وروسته باید د شعر ټول عناصر خپلې مطلوبې موخې سره تطبیق کړو.

هوشنګ ابتهاج په دې باره کې لیکي: زما لپاره له یادو شوو مواردو څخه یوه هم هنري ارخ نه درلود، د رعایت او تنظیم لپاره یې هم راسره څه نه و. زما لپاره خبرې کول، د خپل زړه درد شریکول مطرح وو، یانې ما واقعا هېڅ وخت شعر نه دی ویلی او نه مې ادعا کړې چې شعر مې وویل. دا اصلا د خپلو خبرو د بیان لپاره یوه وسیله وه، څو درد بیان شي او د شعر د چارو دا ټول هنرونه او تخنیکونه زما د کار وسایل وو چې د خپلې خبرې په کولو کې یې راسره مرسته کوله.

دویم: له کلیشو باید لرې وتښتو، یانې تکراري او پخوانۍ قیاسونه، استعارې او تشبیهات باید هاخوا وغورځوو او هڅه مو دا وي چې نوې استعارې وپنځوو. زموږ مخاطب پر خلاقیت پوهېږي، دده زړه هغه کار غواړي چې دی حیران او متعجب کړي، کله چې د خیال تصویرونه اشنا او ساده وي، نو لوستونکي ته جذابیت نه لري، نه غواړي چې ورسره پاتې شي او ذهن یې هم له ننګونې سره د مخامخ کېدو لېوالتیا نه لري. موږ باید داسې پنځونه وکړو چې شعر مو د معانې ژورې را ونغاړي. د حسین منزوي په نامه یو شاعر وایي:

د شپې په ستر بڼ کې
زموږ د وصل وخت وي
کله چې د میاشتې نقره یي منه رسېږي
له شپې سره زموږ د وصل وخت راغلی دی

په دې بېلګه کې د میاشتې نقره یي منه ترکیب یوه بکره او ښکلې استعاره ده

درېیم: له بدیعي تصویرونو سره ژوره اشنایي مهمه ده او د ایجاد لپاره یې باید نوې زاویې او اړخونه وپلټل شي.

څلورم: د عیني او ذهني کلماتو په کارونه کې باید دقت وکړو. له مخاطب سره د ژورې او اغېزناکې اړیکې لپاره او له خپل ذهن څخه د لا کره تصویر پنځولو لپاره باید وپوهېږو چې کوم وخت له ذهني او کله بیا له عیني کلماتو څخه استفاده وکړو. عیني کلیمات هغه دي چې کله ورسره مخامخ شو، زموږ ټولو په ذهن کې یو مشخص تصویر جوړوي. مثلا قلم، موبایل، نجلۍ

خو ذهني کلمې بیا هغه دي چې د هر کس لپاره جلا او ځانګړی مفهوم ولري. لکه پرتم، رنګ، مینه او نور..

کله چې وایو هغه خوشحاله دی، دا خوښي ممکن زما لپاره حد او حدود ولري او تاسې ته هم همداسې، خو هغه پیشو چې د دېوال په څنګ کې تېره شوه، په اړه یې د ټولو تصویر یو ډول دی. زما په فکر د تصویر جوړونې لپاره ذهني کلمات غوره دي. مثلا ددې پر ځای چې ووایو هغه خوشحال شو، کولای شو ووایو چې په سترګو کې یې د خوښۍ رڼا وځلېده.

پینځم: بدیهیاتو ته بې اعتنایي ونه کړو، ځینې خبرې لکه په لاره تلل، ویده کېدل، غذا خوړل او... عادي خبرې دي، د شاعر ځواک په دې کې دی چې ورځنۍ پېښې چې عادي خلک ورسره په راحتۍ مخ کېږي، له تازه لید لوري وګورو. د اسماعیل امیني په قول: شاعران باید د دنیا مسایلو ته په یوه بل ډول وګوري او د بدیهیاتو په اړه شک وکړي. که چېرته داسې وي چې دوی هم په معمول او عادي موضوعاتو پسې ولاړ شي، نو له نورو سره یې توپیر څه شو؟ حال دا چې د شاعر کار بار له نورو سره توپیر ولري او د پېښو نور اړخونه له هنري انداز را برسېره کړي.

شپږم: هېڅ شعر وروستی نه دی، فکر مه کوئ چې شعر بشپړ شو، هر شعر له سره لیکل کېدی شي، د شعر صورت او سیرت مو بیا بیا په نوو ښکلاوو سینګار کړئ.

# د حکم له لحاظه د جامې اقسام

**عبدالرقیب رقیب**

اول – لازمه:

د دې لپاره چې انسان خپل عورت پټ کړي, یا له ناروغۍ پیدا کونکي یخ او ګرمي نه ځان وساتي جامه په تن کول فرض ده.

دوهم – مستحب:

د الله تعالی د نعمت ښکارندویې لپاره د اړتیا نه زیاته جامه په تن کول مستحب ده؛ رسول الله ﷺ فرمایلي: «إن الله یحب أن یری أثر نعمته علی عبده» ترمذي. له شک نه پرته, الله خوښوي چې د خپل نعمت اثر په خپل بنده باندې ووینې.

دریم – مباح:

د ځان ښایسته کولو لپاره ښایسته جامه د اخترونو, جمعو او نورو محفلونو لپاره په تن کول مباح ده؛ خو هروخت ښایسته جامه په تن کول په کار نه‌ده، ځکه داکار بې‌خیري او لویې ده او بله دا چې د محتاجو او غریبانو خلکو غوسه او حسد پاروي، نو پرهېز ورنه په کار ده؛ که ښایسته جامه په انسان کې کبر نه پیدا کوي بیا یې ټول وخت په تن کول هم باک نه لري، د کبر د نه‌پیدا کیدو علامه دا ده چې په دغو جامو کې داسې احساس کوي لکه په عادي جامو کې.

څلورم – مکروه:

د تکبر په نیت جامه په تن کول مکروه ده.

پنځم – حرامه:

د نرانو لپاره وربښمینه جامه حرامه ده، مګر ګلدوزي/ خامک یې جواز لري، چې له څلورو ګوتو زیاته نه وي.

بېلابېل:

بهتره دا ده چې جامه د پنبه، کتان یا وړۍ نه جوړه وي؛ دا د سنت سره برابره ده. چې لمن یې د نرۍ لېنګۍ ترنیمایې پورې وي او لستوڼي یې تر ګوتو رسیدلي وي، د لستوڼو خولې یې یوه لویشت وي.

جامه باید نه ډېره بهتره وي او نه ډېره بده وي، ځکه وسطیت بهتري ده او بله دا چې په شریعت کې له «تشهیر» نه منع راغلې ده، تشهیر همدا ده چې جامه یې ډېره قیمتي وي یا ډېره بې کاره وي.

د نرانو لپاره مکروه ده چې جامه یې تر پونډیو ښکته وي.

سپینه جامه مستحب ده.

رسول الله ﷺ تور او زرغون پټکی هم په سر کړی دی.

د لویانو دا عمل مکروه دی چې خپلو نابالغه زامنو ته سره‌زر او وربښمنې جامې ور په تن کړي.

الدر المختار وحاشیة ابن عابدین (رد المحتار)-[کتاب الحظر والإباحة]-[فصل في اللبس]- جلد - ٦ - صفحة -٣٥١ - م. بیروت.

# واکمنو ته!

**حامد افغان**

عرب کوچی د وخت ځواکمن اموي پاچا سلیمان بن عبد الملك ته ورپورته شو، د نر غوندې یې څو داسې سپینې خبرې ورته وکړې چې بل چا نه شوی ورته کولی! کوچي ورته ویل: د مومنانو امیره! څو خبرې درته کوم، که بدې درولګیدې؛ ویې زغمه، ځکه که زما خبرې دې ومنلې په دې کې دې ډېره ګټه ده.

سلیمان ورته وویل: کوچیه وایه، څه ویل غواړې؟ کوچي ورته وویل: زه په داسې خبرو خوله خلاصوم چې ډېرې ژبې پر هغو خبرو ګونګې دي، خو دا خبرې د الله لپاره تا ته د وعظ په نیت کوم، ته زموږ امام یې، پر موږ حق لرې چې حقه، ګټوره او سپینه خبره درته وکړم.

د مومنانو امیره! پر تا داسې خلک راتاو شوي دي چې ځانونو ته یې هم بده لاره غوره کړې ده! دوی د خپل دین په بدل کې ستا نه دنیا اخیستې ده! دوی الله خپه کوي او تا خوشالوي! دوی ستا باره کې له الله څخه نه ډارېږي، دوی دې اخرت خرابوي او دنیا درته ښایسته کوي! نو الله تعالی چې تا ته کوم امانت (د خلکو امارت او دولت) سپارلی؛ دوی ته دا امانت مه سپاره.

کوچي زیاته کړه: دوی دې امانت ته د دې لپاره اوږې ورکړې دي چې ضایع یې کړي، دوی له امت او ولس سره هیڅکله مخلص نه دي؛ خو د دوی د کړنو به الله ستا نه پوښتنه کوی! او دوی نه به ستا د کړنو پوښتنه نه کیږي، نو د خپل اخرت په خرابولو سره د دوی دنیا مه ورته جوړوه، ځکه قیامت کې به تر ټولو لوی تاوانې هغه څوک یې چې د نورو د دنیا لپاره یې خپل اخرت خراب کړی یې.

سلیمان بن عبد الملک ورته وویل: اې کوچیه! تا نصحیت وکړ، موږ ته دې الله توفیق راکړي چې ستا خبرې عملي کړو. المجالسة وجواهر العلم، للدینوري ١٣٤.

دا څو سپینې خبرې یوه سهرایي کوچي د وخت پیاوړي اموي واکمن سلیمان بن عبد الملک ته کړې دي، چې ټولې د واکمن پر حاشیه، ورنږدې خلکو او مهمو مشاورینو راڅرخي، هر کشر، منځنی او لوی واکمن که دا خبره مني یا یې نه مني؛ خو هغه د هغو خلکو په مکمل کنترول کې یي چې سهار او ماښام پرې راتاو یي.

که لږ نور جرأت او وضاحت وکړو، باید ووایم لکه یو بندي چې پولیس په ولچکونو او ډنډو کنترولوي؛ یو واکمن د هغه ورنږدې خلک په ژبه او خبرو سره همداسې کنترولوي، نو که دا خلک ښه، صالح، دینداري او له وطن سره خواخوږي یي؛ واکمن به پر سمه، نظام به مخ پر قوت او هیواد به مخ پر وده روان یي او که داسې نه یي، الله دې نه کړي درنې ستونزې به رامنځته کیږي او واکمن به د الله او ملت په وړاندې مسؤل او پوښتل کیږي.

# شعر او ادب

## غزل

**مفتي حبیب**

ترخاورو لاندې پاک شهید په وینو رنګ ویده دی
که ستړی شوی دی ماشوم دمورتر څنګ ویده دی

طوطي ته ووایه څه وایي موږ ناترسو لره
پرګونګه ژبه خو د شناختو یو آهنګ ویده دی

دروح کوتره یې الوتې ده په لیرې سفر
دا چې بېغمه پر سپېره میدان ملنګ ویده دی

یویو ویښېږي پټه خوله دروميي نا رې نه وهي
ځکه نو دلته هر سړی لا ښه په درنګ وید دی

د تناسب نري تارونه عقل څه پېژني
پرڅومره سپینه سینه څومره تور لونګ ویده دی

دېبلتانه لمرونو سوی لږ ارام ته پرېږدئ
څه په خواږه خوب د لمبو خوا کې پتنګ ویده دی

«حبیبه» ورو ورو به راځې د اتحاد خونې ته
داختلاف د دېوال سیوري ته لوی جنګ ویده دی

## ماته مه وایه چې ځمه!

**حفیظ الله باغبان**

ای زما خوږه جانانه،ما ته مه وایه چې ځمه
زړه مې لوېږي له خفګانه،ما ته مه وایه چې ځمه

ته زما د سترګو تور یې ته زما د زړه ټکور یې
د رنځور زړګي درمانه، ما ته مه وایه چې ځمه

اضطراب وي پریشاني وي هر ساعت عذاب وي
زړه مې تور شي له جهانه، ما ته مه وایه چې ځمه

ته ددې چمن بلبل یې ته ددې وطن سپرلی یې
ته خبر یې له خپل ځانه،ما ته مه وایه چې ځمه

دا دې څرنګه عادت دی چې شېبه شېبه پاڅېږې
مړه پاتې شه ناځوانه،ما ته مه وایه چې ځمه

د یورب ښکلا به څه کړې چې ګلاب ځواني دې وخوري
ای زما د کلي خانه،ما ته مه وایه چې ځمه

د باغبان د وجدان غږ دی څه ویده احساس یې نه دی
ته لږ غوږ شه ای نادانه، ماته مه وایه چې ځمه

## د زړه فانوس

**عرفان الله عرفاني**

د زړه فانوس ته مې ډیوه پکار ده
ژوند ته مې نوې فلسفه پکار ده

چې ماشوم عشق مې پکې زده کړه وکړي
ماته د مینې مدرسه پکار ده

اوبه کوم پرې د خیال تږی کاروان
د غره لمن کې مې چینه پکار ده

ګوره زه یمه د مینو سفیر
ډکه له ناز مې کرشمه پکار ده

دنګه ولاړه د جُنون کلا ده
ورته د عقل دروازه پکار ده

د چا د یاد دښتې مې ټولې پل کړې
د صحرا هجر ته خیمه پکار ده

په نڅا راغله د غزل ښاپېرۍ
اوس مې قلم او کتابچه پکار ده

ځمه جهاد ته له غازیانو سره
یو مې ټوپک بله چانته پکار ده

پر سرک راغلل د رقیب ټانګونه
ښه بارودي غټه بوشکه پکار ده

(عرفاني) تاته مې څو ځل و ویل!
زما غرنۍ مسته ټپه پکار ده

# په فارياب کې د کتابونو نندارتون جوړ شو

د فاریاب د عامه کتابتون له لوري د اطلاعاتو او کلتور ریاست په همغږۍ د کتابونو یو ورځنی نندارتون جوړ شو.

د فاریاب د اطلاعاتو او کلتور رييس مولوي شمس الله فاریابي د باختر آژانس خبریال ته وویل چې دغه یو ورځنی نندارتون د کاووشګران تعلیمي مرکز په همکارۍ د یاد ولایت د پشتونکوټ ولسوالۍ په یوه تفریحي سیمه کې د لوست د فرهنګ د ودې په موخه په لاره اچول شوی دی.




نوموړي زیاته کړه، چې په دغه نندارتون کې په بېلابېلو برخو کې سلګونه کتابونه نندارې ته ایښودل شوي وو.

# امتحان تثبیت صنف مجاهدین در بلخ، برگزار شد

یک هزار وهشتصد تن ازمجاهدین امارت اسلامی در بلخ، امتحان تثبیت صنف درسی را سپری کردند.

مولوی غفران هجرت آمرتعلیمات عمومی معارف بلخ به خبرنگار محلی آژانس باختر گفت: بر اساس هدایت وزارت معارف آن عده مجاهدین که در جریان جهاد در بیست سال گذشته، از تحصیل باز مانده و خواهان ادامه تعلیمات خویش در مکاتب اند، شامل پروسه امتحان تثبیت صنف مجاهدین شدند.

به گفته وی، برای اشتراک در این امتحان ۲٤۰۰ تن ثبت نام کرده بودند که از ۱۸۰۰ تن آنها امتحان اخذ گردیده و قراراست، کامیاب شده گان در صنوف یازدهم و دوازدهم مکاتب روزانه و لیسه شبانه جذب شوند.

# د تخار د مالګې کانونو داوطلبي ترسره شوه

د کانونو او پټرولیم وزارت، د تخار د ارچه کوتل او د تاقچه خانه سیمې د (بي) او (سي) بلاکونو د مالګې کانونو داوطلبي ترسره کړه.

د باختر آژانس د خبر له مخې؛ د دغه وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي، چې د یادو ساحو د مالګې کانونو داوطلبي چې مخکې اعلان ته سپارل شوې وه؛ د کانونو او پټرولیم وزارت د سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور، د دغه وزارت د معینانو او د هغو شرکتونو د استازو په شتون ترسره شوه چې د پروپوزلونو په ارزونه کې یې د داوطلبۍ شرایط پوره کړي وو.

په دې داوطلبۍ کې د «الهادي نبي کانونو استخراج شرکت» د فی ټن په ۱۵۰۰ افغانیو د ارچه کوتل ساحې، د «سکای آریا شرکت» د فی ټن په ۲۵۰۰ افغانیو د تاقچه خانه سیمې د (بي) بلاک او د «شهباز منصور کانونو استخراج شرکت» د في ټن په ۱۱۲۵ افغانیو د تاقچه خانه سیمې د (سي) بلاک ګټونکي اعلام شول.

## د اسلامي امارت مسوولین د افغانستان د خلکو او ملت ...

هغه زیاته کړه، چې د اسلامي امارت عمومي هدف د خلکو خدمت کول دي او موږ باید له دغه نظام سره همکاري وکړو، ترڅو په ټولو برخو کې د هېواد د پرمختګ لامل شي. نوموړي وویل، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت د ټولو قومونو په خدمت کې دی او په ټولو برخو کې به د دوی مشروع ستونزو ته پاملرنه کوي.

ورته مهال د کابل والي شیخ محمد قاسم خالد د دې غونډې د جوړېدو قدرداني وکړه او ويې ویل، چې اسلامي امارت د هېواد له خلکو څخه د ملاتړ شرعي مسوولیت لري، ځکه چې د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې ولسونه او توکمونه د هېواد په ګوټ ګوټ کې په جهاد کې برخه اخیستې او د اشغال پر وړاندې مبارزه او د اسلام دفاع یې کړې ده. خالد وویل: د افغانستان دښمنان موږ په سیاسي او نظامي برخو کې ناکام کړي او په رسنیزه او استخباراتي برخه کې هم له ناکامۍ سره مخ دي.

هغه زیاته کړه، چې د هېواد اقتصاد د ودې په حال کې دی، د اسلامي امارت ټول مصارف له کورنیو عوایدو تمویلېږي.

په همدې حال کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو چارو مرستیال مهاجر فراهي وویل، چې ټول قومونه باید د اسلامي امارت ملاتړ او ساتنه وکړي ځکه د اسلامي نظام ساتنه او ملاتړ د ټولو قومونو او ولسونو دنده ده.

هغه له خلکو او قومونو وغوښتل، چې خپل یووالی وساتي او د هېواد د پرمختګ لپاره هلې ځلې وکړي.

همدارنګه د دربیمې ناحیې د علماوو د سرتاسري شورا رئیس الحاج نعمت الله علیزاده وویل، چې د دا ډول غونډو جوړول کولای شي ملي او قومي یووالی پیاوړی کړي، موږ د اسلامي امارت له نظام څخه خپل ملاتړ اعلانوو او د دغه اسلامي نظام د ټینګښت او ساتنې لپاره به کار کوو.

د کوچیانو د خلکو استازي حاجي علم ګل هم له اسلامي امارت څخه د کوچیانو د ولس ملاتړ اعلان کړ او ويې ویل، چې ټول ولس او توکمونه له اسلامي امارت څخه اقتصاد، تعلیم، امنیت، اتحاد او اتفاق غواړي.

## د ملت او دولت تر منځ هیڅ واټن ...

د افغانستان د اهل تشیع کمېسیون غړو محمد امیر بازل او علي اخلاقي د نورو په استازولۍ په بېلابېلو برخو کې د اهل تشیع ټولنې ستونزې د ریاست الوزراء له سیاسي مرستیال سره شریکې کړې، چې د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال یې د حل کولو ډاډ ورکړ.

په پای کې د اهل تشیع کمیسیون استازو د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال څخه مننه وکړه او له اسلامي امارت سره یې د خپلې هر اړخیزې همکارۍ او ملاتړ ډاډ څرګند کړ.

## د افغانستان بانک، پانزده میلیون دالر امریکایی ...

که در این داوطلبی شرکت کنند و برندگان لیلام مکلفیت دارند، تا حسابات شان را تا ختم روز تصفیه کنند.در خبرنامه همچنان گفته شده است که تسویهٔ قسمی معاملات مجاز نیست و برندگان لیلام مکلف‌اند که پول ذمت خویش را یک‌مرتبه به طور نقدی در مدت زمان معینه تحویل د افغانستان بانک، کنند.روز گذشته نیز، د افغانستان بانک، برای تقویت بیشتر ارزش پول افغانی، ۱٦ میلیون دالر را به طور لیلام به فروش رساند.این در حالی است که یک دالر امریکایی در برابر (۸۷.۱۰) افغانی در سرای شهزاده کابل، مبادله می‌شود.

## رئیس بنیاد «آینده ترکیه» طرح پیشنهادی ایجاد صندوق...

دربخش تمویل پرورشگاه‌ها وآموزش کودکان یتیم فعالیت دارد؛ معلومات داده و طرح پیشنهادی ایجاد صندوق تعاونی برای ایتام را با رهبری وزارت اقتصاد، شریک کرد.

در اخیر، سرپرست وزارت اقتصاد، ضمن قدردانی از کارکردهای بنیاد یاد شده در افغانستان، نظریات و پیشنهادهای آنان را شنیده و در حل مشکلات و بهبود روند کاری به مسئولان آن موسسه وعده همکاری داد

# په لوګر کې پر ۲۰۰ اړمنو کورنیو څاروي ووېشل شول



د لوګر د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسوولین، وايي چې د دغه ولایت په محمدآغې ولسوالۍ کې یې پر ۲۰۰ اړمنو کورنیو څاروي وېشلي دي.د لوګر د کرنې او مالدارۍ ریاست د مالدارۍ آمر ډاکټر خانشرین خسروي د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د دغه ولایت په محمد آغې ولسوالۍ کې یې د بشري قواو د انکشاف ادارې په مالي ملاتړ پر ۲۰۰ اړمنو کورنیو ٤۰۰ پسونه ویشلي دي.نوموړي د یادې مرستې اصلي موخه د بېوزلو کورنیو د اقتصاد پیاوړتیا او د مالدارۍ برخې بډایتوب یاد کړ.

# په جوزجان کې د فرهنګي میراثونو د ساتنې ورځ ونمانځل شوه

په جوزجان کې د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له خوا د کب ۲۰مه د فرهنګي میراثونو د ساتنې ورځ و نمانځل شوه. د باخترآژانس د خبرله مخې؛ د جوزجان د اطلاعاتو او فرهنګ رییس مولوي سیف الدین معتصم په هېواد کې د فرهنګي میراثونو او تاریخي آبداتو د ارزښت اواهمیت په اړه خبرې وکړې او ويې ویل چې افغانستان د تاریخ له پلوه یو با ارزښته او د پام وړ هېواد دی او فرهنګي میراثونه هغه شیان دي، چې زموږ د هېواد تاریخي ماهیت ثابتوي.هغه زیاته کړه چې د جوزجان د اطلاعاتو او کلتور ریاست د فرهنګي میراثونو، تاریخي ابداتو او لرغونو ساحو په ساتنه کې نه سترې کېدونکې هلې ځلې کوي دغه راز د دغې غونډې په پای کې د شبرغان د طلا تپې د لرغونو او تاریخي اثارو انځورونه هم نندارې ته وړاندې شول. د یادونې وړ ده، چې په جوزجان کې ٤۳ قلمه تاریخي اثارد اطلاعاتو اوفرهنګ په ریاست کې ثبت شوي دي.

# په غور کې د نشه يي توکو د تولید یوه کارخونه له منځه یوړل شوه

د غور د امنیې قومندانۍ مسولین وایي، چې د دغه ولایت په مرکز کې یې د یوه کشفي راپور پر اساس د نشه يي توکو یوه کارخونه کشف او له منځه وړې ده.

د دغه ولایت د امنیې قومندانۍ ویاند عبدالرحمن بدري باختر آژانس ته وویل، چې امنیتي ځواکونو د دغه ولایت په مرکز فیروزکوه ښار په غلمین سیمه کې د یوه کشفي راپور پر اساس ۷ تنه د نشه يي توکو د تولید پرمهال نیولي دي.

بدري زیاته کړه، چې په دې عملیاتو کې ۵۰ زره کیلوګرامه یامه، ۵ د ګاز ډبې، ٤۰ بېلره تېل، ۵ کیلو ګرامه چمتو شوي IF، ٦ کارټن تیزاب، یو پیکپ موټر او ګن شمېر نور د نشه يي توکو د تولید وسایل نیول شوي دي.

د نوموړي په وینا، نیول شوي کسان ترڅېړنو لاندې دي، چې دوسیې به یې وروسته له عدلي او قضایي ارګانونو ته وسپارل شي.

## اختصاص اضافه از سه صد میلیون افغانی برای رشد ...

دربامیان، امضا شد.

به گزارش خبرنگار آژانس باختر، قرار است این مقدار پول در جریان سال آینده هجری قمری برای رشد زراعت و حمایت از دهاقین بامیان هزینه شود، مولوی عبدالله سرحدی، والی بامیان اختصاص این مقدار پول را برای رشد زراعت وایجاد زیر بنایی زراعتی در آن ولایت مفید خواند.

عبدالغفور غفاری، رییس صندوق انکشاف زراعتی گفت: قرار است از این پول تخم های اصلاح شده و کود کیمیایی برای رشد و ارتقای محصولات زراعتی خریداری و در میان دهاقین توزیع شود که ۲۲۲۵ دهقان به صورت مستقیم از آن بهره مند خواهندشد.

## د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ادارې له یو شمېر دولتي ...

مولوي ندا محمد ندیم د یادو هوکړه لیکونو د لاسلیکولو په مراسمو کې وویل، چې د هېواد بېلابېلو ولایتونو او پوهنتونو ته د سفرونو پر مهال ورته خلکو په دولتي اداراتو کې له پېچلو کاري پروسو څخه شکایتونه کړي وو او په همدې موخه په یاد وزارت کې د مراجعینو لپاره اسانتیاوو د رامنځته کولو او غوره چوپړتیاوو په موخه دغه تړون لاسلیک شو.

د نوموړي په خبره په تېرو کلونو کې په دولتي ادارو کې پراخ اداري فساد پر وخت د چارو د ترسره کیدو مخه ډب کړې وه او اسلامي امارت په دې برخه کې د اسانتیاوو رامنځته کولو او غوره خدمتونو وړاندې کولو ته ژمن دی

په ورته وخت کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ادارې رئیس مولوي عبدالحنان عارف الله په دغه غونډه کې وویل چې په تېرو ۱۱ میاشتو کې یې د لوړو زده کړو، کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو او کار او ټولنیزو چارو وزارتونو په ګډون په بېلا بېلو ادارو کې ۳٦٤ پروسې ساده کړې دي، په داسې حال کې، چې په تېرو ۱۲ کلونو کې د دغې ادارې له لوري یوازې ۱۷٦ پروسې ساده شوې وې.

د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري مرستیال مولوي محمد حامد حسیب بیا په دولتي ادارو کې د پروسو د ساده کولو په موخه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري هڅې وستایلې او ويې ویل، چې د لوړو زده کړو وزارت په څو ریاستونو کې یې د پروسې د ساده کولو په موخه د پام وړ کار کړی دی.

د نوموړي په خبره د لسانس ډیپلوم اخیستلو پروسه، چې تر دې وړاندې به په ٤۵ پړاوونو او لږ تر لږه ۱۷ ورځو کې بشپړېده اوسمهال له ساده کولو وروسته دغه پروسه په لسو پړاوونو او لږترلږه ۲ ورځو کې بشپړېږي.

سرچینې همدارنګه وویل، چې د پوهنتون د استادانو د علمي ترفیع پروسه، چې تر دې وړاندې به په ۲۲۱ پړاونو او لږ تر لږه ۱٤۸ ورځو کې بشپړېده اوسمهال له ساده کولو وروسته یاده پروسه په ۱۱۳ پړاونو او لږ تر لږه ٦۳ ورځو کې بشپړېږي.

د یادونې وړ ده، چې د تخنیکي او مسلکي تعلیماتو اداري رئیس مولوي غلام حیدر شهامت هم د یادو تړونونو د لاسلیک په مراسمو کې وویل، چې دمګړۍ په وزارتونو او ادارو کې د تدارکاتو پروسه ډېره پېچلې ده او د ساده کولو په موخه یې باید ګړندۍ هڅې وشي.

نوموړي غوښته وکړه، چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداره دې په دې اړه هم یوه طرحه جوړه او عملي کړي.

## مالیې وزارت، په ګمرکونو کې پر لومړنیو خوراکي توکو...

خواخوږي څرګندوي.

د مالیې وزارت د معلوماتو له مخې؛ یوازې د (۱٤۰۱) مالي کال په یوولسو میاشتو کې، د شپږ میلیارده او ۷۰۰ میلیونه افغانیو په ارزښت، تخفیف ورکړل شوی دی.

تر دې وړاندې مالیې وزارت اعلام کړی و چې پر لومړنیو خوراکي توکو د ګمرکي محصول په کمښت سره سره، بیا هم د افغانستان د ګمرکونو په تاریخ کې، په لومړي ځل د روان مالي کال په یوولسو میاشتو کې د هېواد له ګمرکونو څخه ۱۰۰میلیارده افغانۍ عواید راټول شوي دي.

## عواید ریاست صنعت و تجارت ولایت کندز ۴۸ درصد ...

جمع‌آوری شده بود.»

اما دکانداران و مالکان شرکت‌های تولیدی در کندز از نبود بازار شکایت دارند. آنان می‌گویند در گذشته به خارج از کشور صادرات داشتند، اما در حال حاضر صادرات آنان کاهش یافته است.

وسیم اکرم، متشبث، گفت: «در گذشته ما به ایران پاکستان وعراق صادرات داشتیم، اما صادرات ما نسبت به گذشته کمرنگ شده است. از حکومت می‌خواهیم برای فراهم کردن زمینه صادرات با ما همکاری کنند.»

این در حالی است که مسوولان محلی کندز می‌گویند همواره به‌خاطر ایجاد سهولت برای تجار و سرمایه‌گذاران تلاش کرده‌اند. آنان ابراز امیدواری می‌کنند که در سال جدید تلاش‌های شان جهت بازاریابی خارجی شرکت‌های تولیدی نتیجه خوب بدهد.

**Shariat**
Twice printed in week

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت بربښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸۴۴۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Monday 20 March 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 138


# د نشه يي توکو د سوځولو په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) حکم



د افغانستان اسلامي امارت عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ الحديث هبة الله اخندزاده حفظه الله د ۱۴۴۴/۰۸/۱۶ هـ ق (۵۰۹) ګڼې حکم پر اساس د نيول شويو نشه يي توکو او په کې د کارول شويو وسايلو او تجهيزاتو د تخريب حکم وکړ.

په حکم کې راغلي، چې د شرابو او نورو الکولي مشروباتو، اُمان، پوډر، کوکائين، شيشه او نورو نشه يي توکو پلورونکو او توليدونکو ته دې تعزيري سزا ورکړل شي او ياد توکي او په توليد کې يې کارول شوي وسايل او تجهيزات دې تخريب شي.

د دغه حکم له مخې د کورنيو چارو او عامې روغتيا وزارتونه او استخباراتو عمومي رياست ګډ پلاوي ته دنده سپارل شوې، چې ياد توکي د اړوندې محکمې په حضور په عام محضر کې وسوځوي.

# رئيس بنياد «آینده ترکیه» طرح پیشنهادی ایجاد صندوق تعاونی برای ایتام را با وزارت اقتصاد شریک کرد



قاری دین محمد حنیف سرپرست وزارت اقتصاد با جیهاد آرگینای سفیر ترکیه در کابل، عمر دینسر استاد در یکی از پوهنتون های آن کشور و عمر فاروق یکی از تاجران ترکی و رئیس بنیاد «آینده ترکیه»، دیدار کرد.

به گزارش آژانس باختر؛ وزارت اقتصاد با نشر خبرنامه ی گفته است: در این دیدار رئیس بنیاد« آینده ترکیه» در رابطه به کارکردهای این بنیاد در افغانستان که ... ص۵

# د سرای شمالي پر چوک د څه باندې ۵ میلیونو افغانیو په لګښت یو ښکلی سمبول جوړېږي

د کابل ښاروالۍ د ملت ستيل د اوسپنې ويلې کولو کارخونې په همکارۍ د سرای شمالي پر چوک د څه باندې ۵ ميليونه افغانيو په لګښت يو ښکلی سمبول جوړوي.

د باختر آژانس د خبرله مخې؛ د کابل ښاروالۍ د ټولنيزو او فرهنګي چارو مرستيال مولوي حبيب الرحمن منصور د دغه سمبول د چارو د پرانيستې په مراسمو کې وويل، چې د کابل ښاروالۍ د ټولنيزو او فرهنګي چارو رياست د ملت ستيل اوسپنې ويلې کولو کارخونې په همکارۍ د دغه ښکلي سمبول د جوړولو کار پيل کړ.

منصور زياته کړه، چې دې ته ورته د ښکلا چارې به د کابل ښار په نورو مهمو برخو کې هم پلي کړي.

نوموړي دغه راز له نورو سوداګرو هم وغوښتل، چې د ښار په آبادۍ او ښکلا کې ونډه واخلي.

ورته مهال د کابل ښاروالۍ د فرهنګي چارو رئيس قاري ولي جواد وويل، چې د سرای شمالي چوک کې د ښکلا سمبول پر جوړولو سربېره؛ د ګلانو د ګلدانونو جوړول، چمن کرل، د اوبو، د آرائشي څراغونو نصبول او نورې چارې شاملې دي، چې چارې به يې د ۲ مياشتو په موده کې بشپړې شي.

# د کندهار ښاروالۍ په عوایدو کې ۸۵ سلنه ډېروالی راغلی




د کندهار ښاروالۍ مسوولين وايي، د تېر کال په پرتله سږ کال د دغې اداري عوايد ۸۵ سلنه لوړ شوي چې ورسره په کندهار ښار کې د بيارغونې کارونه هم ډېر شوي دي. د کندهار ښاروالۍ مطبوعاتي مسوول ويلي، سږ کال ښاروالۍ ۴۳۳ ميليونه ۲۹۷ زره او ۱۱۰ افغانۍ عوايد راټول کړي، په داسې حال کې چې تېر کال دغه عوايد ۴۵ ميليونه ۷۵۶ زره او ۳۸۶ افغانۍ وو. هغه زياته کړه په دې توګه سږ کال د کندهار ښاروالۍ په عوايدو کې ۸۵ سلنه ډيروالی راغلی چې لامل يې په بشپړه روڼتيا د عوايدو راټولول او دغه راز پر خلکو د پاتې جريمو او باقياتو تصفيه کول دي. نوموړی وايي، دغه عوايد د کورونو او نورو ودانيو د صفايي، د ښاروالۍ ملکيتونو د کرايې، د تفريحي پارکونو او نورو ځايونو د قراردادونو، د مخابراتي شبکو انتنونو د کرايې، د سړک غاړې لوحو د اعلاناتو ،د جوازونو د ملکيت سندونو، د سړک غاړې له پلورونکو جريمو پخوانيو باقياتو او نورو راټول شوي دي.

# اختصاص اضافه از سه صد میلیون افغانی برای رشد زراعت در بامیان

برای رشد زراعت دربامیان، سه صدو سی وچهارملیون افغانی درنظرگرفته شده است.

تفاهمنامه دراین خصوص میان وزارت زراعت، آبیاری و مالداری و «صندوق انکشاف زراعت» از سوی معین مسلکی وزارت زراعت و رئیس صندوق انکشاف زراعت... ۵ مخ



## رویدادهای خارجی

# عمران خان ځان محکمې ته حاضر کړ

سرچينې خبر ورکوي چې پخوانی صدراعظم عمران خان اسلام اباد ته رسېدلی او ځان يې محکمې ته سپارلی دی.

دا په داسې حال کې ده چې محکمې ته د خان په حاضرولو کې د پوليسو او د نوموړي د پلويانو ترمنځ ښوځله اخ و ډب شوی و او لسګونه پوليس او د خان ملاتړي پکې ټپيان شوي وو. د تحريک انصاف په خبره چې پخواني صدراعظم عمران خان د خپلو موټر سايکل سپرو پلويانو په بدرګه اسلام اباد ته ورسېد.

پر عمران خان تور دی چې د خپلې صدراعظمۍ پر وخت يې دولتي ډالۍ په ناقانونه توګه پلورلي دي. بل خوا خان پر ځان د اوسني حکومت لګېدلي تورونه بې بنسټه ګڼي او پروپاګند يې بولي. نوموړی چې اوس اسلام اباد ته رسېدلی، په يو ويډيويي کليپ کې ويلي چې حکومت غواړي دی زنداني کړي او له ټولټاکنويې محروم کړي.

عمران خان د ۲۰۱۸م کال په اګست کې د پاکستان صدراعظم شو او په ۲۰۲۲ کال په اپريل کې ترې پارلمان واک واخيست او د ده مخالف اپوزسيون مشر شهباز شريف يې واک ته ورساوه.

# اکوادور کې د زلزلې له امله ۱۴ کسان مړه شوي دي

د اکوادور په سويل کې د يوې زوروري زلزلې له امله ۱۴ کسان مړه شوي دي. ياده زلزله پرون په ځايي وخت ماسپښين پنځه بجې شوې چې په څو ښارونو کې يې ودانۍ زيانمنې کړې دي. دغه زلزله د رښتر په کچه ۷،۶ درجې ياده شوې ده. د بېړنيو خدمتونو اداره وايي، يو شمېر خلک تر نړېدلو دانيو لاندې ايسار پاتې دي. د زلزلې مرکز بالايو ښار ته نږدې او له ګويا کيل شاوخوا ۸۰ کيلومتره لرې و. د چارواکو په وينا د ځمکښوېدنې له امله ګڼې لارې بندې شوې او ګڼ کورونه، ښوونيزې ودانۍ او روغتيايي مرکزونه زيانمن شوي دي.

هند:

# وضعیت مرزها با چین در منطقه هیمالیا شکننده و خطرناک است




پس از درگیری‌های سال ۲۰۲۰ در مرزهای هند و چین که وضعیت از طریق مذاکرات دیپلوماتیک و نظامی آرام شد، اکنون وزیر امور خارجه هند می‌گوید که وضعیت مرزها با چین در منطقه هیمالیا، شکننده و خطرناک است.

به گزارش رویترز، سوبرانیام جایشانکار امروز (شنبه، ۱۸ مارچ) در یک کنفرانس گفته است که وضعیت بین این کشور و چین در منطقه غربی هیمالیا در «لاداخ» شکننده و خطرناک است و نیروهای نظامی در برخی مناطق بسیار نزدیک به یکدیگر مستقر شده‌اند.

در اواسط سال ۲۰۲۰ در جریان درگیری دو طرف در منطقه غربی هیمالیا حداقل ۲۴ سرباز کشته شدند، اما اوضاع با گفتگوهای دیپلوماتیک و نظامی آرام شد.

خشونت در بخش شرقی مرزهای نامشخص بین قدرت‌های آسیایی مجهز به سلاح هسته‌یی در ماه دسمبر هم رخ داد، اما منجر به تلفات نشد.

# عواید ریاست صنعت و تجارت ولایت کندز ۴۸ درصد افزایش یافته است




مسوولان می‌گویند که عواید ریاست صنعت و تجارت ولایت کندز ۴۸ درصد و شاروالی مرکز این ولایت ۴۰ درصد در سال جاری افزایش یافته است.

به گفته مسوولان ریاست صنعت و تجارت کندز، این نهاد از بهر تمدید و توزیع جواز به شرکت‌های تولیدی بیش از ۱۲ میلیون افغانی عواید جمع‌آوری کرده است.

محمد رحیم سیرت، رییس صنعت و تجارت کندز، می‌گوید: «در سال جدید به تعداد ۱۱۲ نفر جواز جدید توزیع و جواز ۳۰۳ نفر را تمدید کردیم که از مدرک جوازها، عواید ما ۴۸ درصد نسبت به سال گذشته افزایش یافته است.»

مسوولان شاروالی کندز هم‌چنان اعلام کرده‌اند که در ۱۱ ماه سال روان ۱۲۰ میلیون افغانی از بخش‌های مختلف این اداره عواید جمع‌آوری کرده‌اند که نسبت به زمان مشابه سال گذشته، افزایش ۴۰ درصدی را نشان می‌دهد.

تاج الدین سهاک، سخنگوی شاروالی کندز، می‌گوید: «از بخش‌های مختلف مانند محصول صفایی، تعرفه گمرکی، جوازهای اصناف و کرایه ملکیت‌ها ۱۲۰ میلیون افغانی عواید جمع‌آوری کرده‌ایم. در ۱۲ ماه سال گذشته، ۸۶ میلیون افغانی عواید ... ص۵

# فراه کې نږدې ۲۶ زره جريبه دولتي ځمکه تثبيت او له غصب څخه خلاصه شوې ده

د فراه د عدليې رياست مسوولين وايي، چې په روان کال کې يې ۲۵ زره ۸۵۷ جريبه دولتي ځمکه له غصب څخه خلاصه کړې ده.د دغه ولايت د عدليې رياست د قضايا آمر قاري محمد طيب منيب باختر آژانس ته وويل، چې ياد آمريت د روان کال په اوږدو کې د دغه ولايت په بېلابېلو سيمو کې ۲۵ زره ۸۵۷ جريبه ځمکه تثبيت او له غصب څخه خلاصه کړې ده.منيب ډاډ ورکړ، چې هېچاته به په دغه ولايت کې د دولتي ځمکو د غصب اجازه ورنه کړي.

# غور کې څه باندې ۵۵ زره کیلوګرامه یامه وسوځول شوه

د غور د امنيې قومندانۍ مسوولين وايي، چې د دغه ولايت په پسابند او شهرک ولسواليو کې يې ۵۵ زره ۱۲۰ کيلوګرامه يامه ( چې د نشه يي توکو په توليد کې ترې کار اخيستل کېږي) کشف او سوځولې دي.

د دغه ولايت د امنيې قومندانۍ وياند عبدالرحمن بدري باختر آژانس ته وويل، چې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې مديريت منسوبينو په شهرک او پسابند ولسواليو کې په بېلابېلو عملياتو کې ۵۵ زره ۱۲۰ کيلوګرامه يامه له نيولو وروسته سوځولې دي.

بدري زياته کړه، چې ورته مهال د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې مديريت منسوبينو له لوري د دغه ولايت په چهار سدې ولسوالۍ کې پر څه باندې ۱۰ جريبه ځمکه کرل شوي کوکنار هم له منځه وړل شوي دي.



هېره دې نه وي، چې له دې وړاندې هم د دغه ولايت په بېلابېلو سيمو کې په زرګونو کيلوګرامه يامه له منځه وړل شوې وه.

شريعت
په اونۍ کې دوه ځله خپرېږي
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

**د ولسي خلکو مشکلات د امکان په صورت کې حل کړئ، وخت ورکړئ او دروازې يې پر مخ مه بندوئ.**
د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله له ويناوو څخه